# ۱. د ایشیا فوندیشن د ۲۰۰۸ کال د سروی اجرائیوی لنډیز او موندنې

## ۱,۱ مهمې موندنې:

- د سروې شویو ځواب ورکوونکو ۳۸ فیصده کسان وایي دولت په مثبت لورې روان دی، که څه هم دا کچه له ۲۰۰۶ کال را په دې خوا د راکوزېدو په حال کې ده، په داسې حال کې چې ۳۲ فیصده وایي چې دولت ناسم لوري ته خوځیږي او ۲۳ فیصده ګډ نظر لري. له دوو کلونو را په دې خوا یو واضح تمایل د لا زیاتې بد بینی په لور موجود دی.
- امنیتي وضعه د دواړه ډوله ځواب ورکوونکو لپاره چې وایي دولت په مثبت لوري روان دی همداراز د د هغو د پاره چې وایي دولت په ناسم لوري خوځیږي، د اندیښنې دلیل جوړوي. د ځواب ورکوونکو هغه فیصدي چې ناامني د بدبیني لامل ګڼي د تېر کال په پرتله ۲۵ فیصده زیاته شوې ده.
- تر ټولو لویې ستونځې چې افغانستان ورسره په مجموع کې مخ دی ٪۳۶ یې امنیت، اقتصادي موضوعات د بیکارۍ په ګډون ٪۳۱ ، د نرخونو لوړ والی ٪۲۲، ضعیف اقتصاد ٪۱۷ او اداري فساد ٪۱۴ په ګوته شوي دي.
- په عمومي ډول، د ځواب ورکوونکوهغه فیصدي چې د خپلو محلي سیمو امنیتي وضعې په هکله مثبت نظرلري په ډېرو ځایونو کې له ۲۰۰۷ کال راپه دې خوا کمه شوې ده. ځواب ورکوونکو د امنیتي وضعې ښه والی د افغانستان په مرکزي سیمو (هزاره جات) او په لویدیځ او ختیځ کې په ګوته کړی، مګر د امنیت په اړه دا کچه له ۲۰۰۶ کال را په دې خوا په سهیل لویدیځ، سهیل ختیځ او د کابل په مرکزي سیمو کې په ثابته توګه راټیټه شوې ده (۴ ضمیمه نقشه د ماخذ په توګه وګوری).
- د ځواب ورکوونکو زیات شمېر (٪۸۲) د کوکنارو د کرلو مخالف دي، خو دا انګېرنې له ۲۰۰۶ کال راهیسې په څرګند ډول د سیمو تر منځ مخالف لوري ته په تدریجي ډول بدلې شوې دي. د ځواب ورکوونکو هغه فیصدي چې وایي د کوکنارو کرنه ناسمه ده په چټکۍ سره د هزاره جات په مرکزي سیمو کې، او د هېواد په شمال ختیځ کې زیاته شوې ده، په داسې حال کې چې د هغو ځواب ورکوونکو فیصدي چې د کوکنارو کرنه ردوي په سهیل ختیځ او ختیځ کې کمه شوې ده.
- بیکاري د یوې لویې ستونځې په توګه په محلي کچه (٪۲۸) او ملي کچه (٪۳۱) لیدل کیږي، د ځواب ورکوونکو ٪۷۸ وایي چې د دندو د شتون کچه ددوی په محلي سیمو کې ډېره ټیټه ده، فقط د ځواب ورکوونکو ٪۷ د دوو تېرو کلونو په موده کې دکارموندنې په فرصتونو کې ښه والی په ګوته کړی دی.

- تر ټولو لوېې محلي ستونځې د اساسي بنسټونو نشتوالي سره اړينې دي لکه برېښنا، (٣٠٪)، اوبه (٢٢٪) او سړکونه (١٨٪). برېښنا ته د لاس رسي ستونځې، په ځانګړي ډول په شمال ختیځ، ختیځ او سهیل لویدیځ کې په ګوته شوي.
- تر ټولو لوېې کشالې چې د افغانستان ښځې ورسره مخامخ دي په پرله پسې ډول د دریم کال لپاره هم د تعلیم او د سواد نشتوالی (٤٥٪) ښودل شوی دی.
- تر ټولو پراخه شوې خوښې د ماشومانو د تعلیم شتون دی چې د ځواب ورکوونکو ٧٠٪ په وینا ښه ښودل شوې ده، د ځواب ورکوونکو ٤٤٪ ښوونځیو ته د لاس رسي د ښه والي راپور په تېرو دوو کلونو کې ورکوی.
- د ځواب ورکوونکو هغه فیصدي چې وايِي ددوی ژوند د طالبانو د دور څخه ډېر هوسا او نیکمرغه ده په څرګند ډول له ٢٠٠٦ کال را په دې خوا له ٥٤٪ څخه ٣٦٪ ته کم شوی ده، په داسې حال کې چې د هغو ځواب ورکوونکو فیصدي چې وايي دوی پخوا زیات نیکمرغه وو اوس مهال یې فیصدي له ٢٦٪ څخه ٣٦٪ ته په ٢٠٠٨ کال کې زیاته شوې ده.
- د ځواب ورکوونکو دوه پر دریمه برخه(٦٧٪) د مرکزی حکومت اجراات مثبت ارزوي، که څه هم د هغو ځواب ورکوونکو فیصدي چې وايي حکومت خپلې دندې په ناسمه توګه تر سره کوي له ٢٠٠٧ کال راپه دې خوا تقریبا دوه چنده شوې ده. د حکومت اجراات د ښوونې او روغتیايي چارو له لوري مثبت ارزول شوي دي. مصاحبه شوي خلک اقتصادي ډګر او د فساد ضد مبارزه کې د حکومت د اجرااتو په هکله ډېر کم مثبت نظر لري.
- په محلي کچه، ځواب ورکوونکي د ولایت د مقاماتو اجرااتو څخه ډېر راضي ښکاري (٧٤٪)، دا شمېره د ولسوالی د مقاماتو په اجرااتو تعقیبیږي (٦٧٪) . ځواب ورکوونکي د ښاروالیو د اجرااتو څخه لږ راضي ښکاري ( ٥٠٪). د خلکو د رضایت کچه د حکومت د عمومي اجرااتو په هکله له ٢٠٠٧ کال را په دې خوا لوېدلی ده.
- د قضايي سیستم په هکله عامه نظرېې په رسمي او غیر رسمي ډول مثبتې پاتې شوي دي. ځواب ورکوونکي خپل باور او اعتماد په لویه کچه د مناقشود حل کولو په هکله د دولت د مېرنه قضايي سیستم په پرتله په خپل دودیز میکانیزم کې ګوري، په خاص ډول په کلیوالي سیمو کې. د جرګو او شورا ګانو د میکانیزم په هکله د خلکو رضایت نظر د دولت محاکمو ته د لاس رسي له اړخه (٧٦٪ د ٦٨٪ په مقابل کې)، انصاف او باور ( ٧٠٪ د ٥٠٪ ) په مقابل کې ، د هغوی مؤثریت په محلي نورمونو او ارزښتونو کې (٦٩٪ د ٥٠٪ ) په مقابل کې، او د عدالت په تامینولو کې (٦٩٪ د ٥٢٪ ) په مقابل کې ډېره ده. دواړه سیستمونه د طرزالعمل د مهال وېش له مخې خورا لږ مثبت ارزول شوي دي (٥٠٪ د ٣٨٪) په مقابل کې.

- یو ځل بیا په ۲۰۰۸ کال کې د ولسواکۍ (دیموکراسی) په هکله تر ټولو معمولي تعریف چې د ځواب ورکوونکو له خوا ورکړ شوی آزادي ده چې په سولې بدرګه کیږي. د ځواب ورکوونکو هغه فیصدي چې د دیموکراسی بنیادي اصول لکه د خلکو حکومت او حقوق او قانون په ګوته کوي له ۲۰۰۶ کال راهیسې رالوېدلې ده.
- د ځواب ورکوونکو دوه پر دریمې برخې څخه زیات (۶۸٪) وایي په کومه طریقه چې دیموکراسي په افغانستان کې کارول کیږي رضایت لري، خو بیا هم د ملاحظې وړ نارضایتي د هېواد په سهیل لویدیځ (۴۴٪)، سهیل ختیځ (۳۵٪) او ختیځ (۳۳٪) کې ثبت شوې ده.
- د خلکو محلي رسمي اوغیر رسمي استازي، د ځواب ورکوونکو د دوه پر دریمې برخې اعتماد څخه د شورا او جرګو (۶۹٪)، د کلي د برمختیایی شوراګانو او ولایتی شوراګانو (۶۵٪) په شمول برخمن دي.
- تقریبا د کلیو (۴۷٪) ځواب ورکوونکي او د ښار د اوسېدونکو څلورمه برخه (۲۳٪) د خپلو سیمه ایزو د کلیو د پرمختیای شوراګانو څخه با خبره دي. په مجموعي توګه د کلیو د پرمختیایی شوراګانو په هکله خبرتیا د هېواد په کچه له ٪۳۷ ځواب ورکوونکو څخه ٪۴۲ ته په ۲۰۰۸ کال کې زیاته شوې ده.
- فقط د ځواب ورکوونکو نیمایي برخې څخه زیات (٪۵۳) د ۲۰۰۹ کال ټاکنو څخه باخبره دي او فقط تر نیمایي کم (٪۴۸) ځواب ورکوونکي وایي دوی پوهیږي چې څرنګه خپل ځانونه د رایې ورکولو دپاره راجستر کړي. د ځواب ورکوونکو نږدې درې په څلورمه برخه (٪۷۷) وایي چې احتمالا دوی به رایې ورکړي. په هر حال ددې موضوعاتو په هکله د نارینه وو مثبت غبرګون په څرګند ډول د ښځو په پرتله ډېر ده.
- د ځواب ورکوونکو (٪۷۷) څه نا څه خپل باور د افغانستان په دولت ښودلی چې په راتلونکې کې به د ټاکنو آزاده او عادلانه پروسه سمباله کړي. د افغانستان په وړاندې تر ټولو مهمه ننګونه (ګواښ) امنیت پېژندل شوی چې په ضعیفه حکومت کولو او اداري فساد بدرګه کیږي (تعقیبیږي).
- د ځواب ورکوونکو ٪۵۱ رادیو د عمده خبري منابعو په توګه، او ٪۲۱ تلویزیون د ملي خبرونو عمده خبري منابعو په توګه کاروي. د ښار د اوسېدونکو تر نیمایي زیات ځواب ورکوونکو دپاره تلویزیون تر ټولو غوره خبري منبع ګڼل شوې ده.

## ۱,۲ لنډیز

دځواب ورکوونکو د سروې ٪۳۸ خلك وایي چې حکومت په صحیح مسیر روان دی، په داسې حال کې چې ٪۳۲ وایي چې حکومت په ناسم لوري خوځیږي، او ٪۲۳ ګډ نظر ښودلی ده. سره له دې، په

تېرو دوو کلونو کې يو واضحه تمايل د يوې لوېې بدبينۍ په لور موجود ده، د هغو ځواب ورکوونکو فيصدي چې وايي حکومت په صحيح لاره روان دی له ۲۰۰۶ کال راهيسې په تدريجي ډول کمه شوې ده، په داسې حال کې چې د هغو خلکو شمېر چې وايي حکومت په ناسم لوري روان دی زيات شوی ده.

امنيتي موضوعات په مجموعي توګه په ټول افغانستان کې د يو ډېر غټ مشکل په توګه پېژندل شوی ده او دواړه بد بينه او خوشبينه نظريو درلودونکي کسان دغه د لوی عامل ګڼي. په هرحال، دا واضحه ده چې په افغانستان کې امنيتي مسئلې په مسلطه توګه (پام وړ) سيمه ايز بُعد پورې تړلې دي. سروې موندلې ده چې امنيتي موضوعات په افغانستان کې د ۲۰۰۸ کال په جريان کې ځو قطبي شوي دي، د هغو مصاحبه شويو خلکو (ځواب ورکوونکو) په آند چې په ځينې سيمو کې ډېر د امنيت احساس کوي خو بعضی مصاحبه شوی خلك په ثابت ډول نسبتاً د بې اطمينانی احساس کوي. په عمومي ډول، د ځواب ورکوونکو هغه فيصدي چې د امنيتي وضعې په هکله په خپلو سيمو کې مثبت نظر لري له ۲۰۰۷ کال را په دې خوا په اکثرو سيمو کې کمه شوې ده.
ځواب ورکوونکي د افغانستان په مرکزي سيمه (هزاره جات)، لويديز او ختيځ کې امنيتي وضعيت ښه ګڼي. مګر له ۲۰۰۶ کال را په دې خوا دا کچه په سهيل لويديځ، سهيل ختيځ، او د هيواد په مرکزي سيمو(کابل ساحه) کې د امنيتي وضعې په اړه په منظمه توګه کمه شوې ده. د ځواب ورکوونکو دواړه فيصدي چې وايي دوی اکثراً د خپل امنيت په هکله وېره لري او هغه ځواب ورکوونکي چې وايي دوی هېڅکله د خپل امنيت په برخه کې وېره نلري له ۲۰۰۷ کال راپه دې خوا زياته شوې ده. چه دا د امنيتي ويجاړې شوې وضعې ته د هېواد په بيلابيلو برخو کې د ډېر تاکيد خبر ورکوي.

لکه ځرنګه چې د مخکنيو کلونو په سروې کې په ډاګه (موندل) شوې ده د شخصي خونديتوب، د تشدد او جرمونو په هکله د ځواب ورکوونکو حقيقي تجربې په نسبي ډول د دوی د وېرې دکچې په پرتله لږ شوې دي. کله چې ځواب ورکوونکو څخه د هغه تشدد او جرمونو د ډولونو په هکله چې د دوی تجربه کړي، پوښتنه وشوه خپل مينځي تشدد يا تهديد په لويه کچه چې په دوهمه درجه د ملکيتونو په جرم بدرګه کېږي. په ۲۰۰۸ کال کې د جرمونو بيلا بېل ډولونه په زياته اندازه د تېرو کلونو ريکارد شويو جرمونو په شان دي، د سهيل لويديځ او سهيل ختيځ سيمو په استثناء چېرته چې په ځرګند ډول جرمونه زيات شوي دي او په هېواد کې له يادو شويو سيمو څخه د جرم د تمايل د پاره تر ټولو ستونزمنې سيمې جوړوي.

سروې موندلې ده چې اکثره ځواب ورکوونکي په خپلو سیمه ایزو فعالیتونو کې، لکه د ستونزو د سیمه ایز حل یا په ملي ټاکنو کې د رایې ورکولو لپاره د خوندیتوب احساس کوي. خو بیاهم دوی په څرګند ډول کله چې په عامه سیاسي فعالیتونوکې برخه اخلي لکه په سوله ایزه مظاهره کې ګډون کول یا د عامه خدمت پوستونو ته کاندیدیدل ډېر ډارېدلي ښکاري. ښځې د نارینه وو په پرتله په ټولنه کې د ستونزو د حل کولو په ګډون یا سوله ایزه مظاهرو کې په ډیر ډار کې دي. سره له دې کوم د پام وړ ځواب ورکوونکو فیصدي د نارینه وو او ښځینه وو تر مینځ چې وایي دوی په ملي ټاکنو کې د رایې ورکولو او یا د د عامه خدمت پوستونو ته کاندیدولو کې ویره لري نه لیدل کېږي.

لکه د تېرو کلونو په شان، دافغانستان ملي پوځ او ملي پولیس د حکومت له ټولو موسسو څخه تر ټولو لوړ اعتماد څخه برخمن دي. خو بیا هم ځواب ورکوونکي د دې موسسو دظرفیتونو په اړه چې د بهرنیو له مرستې څخه پرته کارونه په مؤثره توګه تر سره کړي د پام وړ اندېښنې څرګندوي او دا موسسې د غیر مسلکي او خرابو زده کړو درلودونکې ګڼي. د ځواب ورکوونکو هغه فیصدي چې دا ډول اندېښنې څرګندوي له ۲۰۰۷ کال راهیسې کمه شوې ده، دوی پیشنهاد کوي چې داسې یو تصور موجود ده چې ملي پوځ او ملي پولیس د ښه کېدو ظرفیت لري.

د ځواب ورکوونکو یو زیات اکثریت د کوکنارو د کرنې په ضد دي، خو بیا هم ددوی مفکورې په څرګند ډول مخالف لورې ته له ۲۰۰۶ کال را په دې خوا اوښتې دي. د ځواب ورکوونکو هغه فیصدي چې وایي د کوکنارو کرل غلط دي په مرکزي هزاره جات او شمال ختیځ کې په چټکۍ سره زیاته شوې ده، په داسې حال کې چې د ځواب ورکوونکو هغه فیصدی چې د کوکنارو کرنه بده ګڼي په سهیل ختیځ او ختیځ سیمو کې رالوېدلې ده. کوم کسان چې د کوکنارو کرنې سره موافق دي اساساً دا کار دوی د اقتصادي دلیلونو په بنسټ لکه دبزګرانو اوکاریګرو دکار د پیداکولو او ګټورتوب په خاطر کوي، او دا کار دوی په داسې حال کې کوي چې اندېښنې یې د بېکارۍ په هکله د یوې مهمې ملي او محلي ستونزې په توګه ثابته پاته دي.

په ۲۰۰۸ کال کې، اقتصادي مسئلې د یو غټ ملي مشکل په توګه د ۲۰۰۷ کال په پرتله څرګند شو، مخصوصا د غذایي موادو اوچت نرخونه، بیکاري، او کم زوری اقتصاد چې نړۍ والو بحرانونو سره تړاو لري. له ۲۰۰۶ کال راهېسې د هغو ځواب ورکوونکو شمېر چې وایي دوی نن سبا خپل ځانونه د طالبانو د رژیم په پرتله ډېر هوسا ګڼي د هغو ځواب ورکوونکو په شمول چې د تېرو کلونو په پرتله په ۲۰۰۸ کال کې د خپلو کورنیو اقتصادي موضوعاتو په اړه په ډېره کچه نا خوښه دي په څرګند ډول رالوېدلی ده.

بیکاري د یو لوی مشکل په توګه په محلي کچه پېژندل شوې ده ، او داسې لیدل کېږي چې د استخدام کولو په فرصتونو کې د تېرو دوو کلونو په اوږدو کې لږ ښه والی تر لاسه شوی وي. د راتلونکې د ښه والي دپاره هیلې په دې اړه تر ټولوکمې دي، او د ځواب ورکوونکو یوه څرګنده فیصدي اټکل کوي چې د کار شته والی به په راتلونکي کال کې حتی تر دې هم کم وي.

د سیمو نورې ډېرې مهمې کشالې چې تر ټولو لویې سیمه ایزې ستونځې د اساسي بنسټونو نشتوالي سره اړینې دي لکه برېښنا او اوبو ته لاس رسي، او د سړکونو او ضروری عامه خدمتونو نشتوالی لکه روغتیا ښوونه او روزنه. د برېښنا سمبالونه د یو لوی سیمه ایز مشکل په توګه پیژندل شوی او د ۲۰۰۸ کال د برمختیایی لوړ لومړیتوب په توګه څرګند شوی ده. برېښنا ته لاس رسي د ښار او کلیو د اوسېدونکو او د مختلفو سیمو تر مینځ ډېر توپیر لري. له بله پلوه، د ځواب ورکوونکو ډېره فیصدي د څکلو پاکو اوبو موجودیت ددوی په سیمه کې د ښه عمل په توګه قضاوت کوي اود پرله پسې ښه توب هیله یې په راتلونکي کال کې کیږي.

د د ربم کال لپاره د افغانستان د ښځو تر ټولو لویه ستونزه د زده کړې نشتوالی او بې سوادي ده. د ښځو د حقوقو نشتوالی او دهغوی لپاره د دندو د فرصتونو نشتوالی په لست کې په څرګنده توګه لوړ ښکاري.

تر ټولو پراخ سلوک د ماشومانو لپاره د زده کړې په برخه کې موجود دی. په ۲۰۰۸ کال کې زده کړه په انکشافي لومړیتوبونوکې پنځم مقام ته لوېدلې ده او علت یې شاید داوي چې ځواب ورکوونکي په تېرو دوو کلونوکې د مهمو پرمختګونو رپوټ ورکوي. برسېره پردې، ځواب ورکوونکي په دې برخه کې په راتلونکي کال کې د ډېرو پرمختګونو هیله مند دي.
زده کړه، بیاودانول، د سړکونو او پلونوجوړول یا اوبو رسول او روغتیایی چوپړ د پرمختیایی لومړیتوبونو لپاره د لوړو موخو په توګه لیدل کیږی. د افغانستان دولت ته د یوې لومړنۍ مرجع په توګه چې د اقتصادي پرمختیایي پروګرامونو، عمومي هوساینې لکه برېښنا او اوبه او د عامواساسي خدمتونو برابرونې مسئول دی، کتل کیږي.
په ټول هېواد کې د ځواب ورکوونکو د پنځو برخوڅخه یوه برخه د خپل ولایت په اړه د دولت دانکشافي پلان څخه باخبر دي که څه هم د آګاهۍ کچه په ولایتونو کې په پراخه توګه توپیر لري. د هغو کسانو څخه چې د دولت انکشافي پلانونو په اړه خبرتیا لري دهغوی د درې برخوڅخه دوه برخې د خپل ولایت لپاره د پېشنهاد شوو انکشافي فعالیتونو د څرنګوالي په اړه څه ناڅه معلومات لري.

د مرکزي دولت د لاسته راوړنو ټولې ارزونې مثبتې دي په خاصه توګه هغه ارزونې چې د عامه چوپړ یا خدمت د برابرونې په اړه دي. د دولت لاسته راوړنې د زده کړې او روغتیایي خدمتونو د برابرونې په برخه کې ډېرې مثبتې ارزول شوې دي مګر د اقتصاد په برخه کې او همداراز د اداري فساد سره د مبارزې په برخه کې د دولت لاسته راوړنې لږ مثبتې ارزول شوې دي. د سیمې په کچه، ځواب ورکوونکي د ولایتي او ولسوالیو دچارواکو د لاسته راوړنو څخه ډېر راضي دي او د ښاروالیو د چارواکو د لاسته راوړنو څخه لږ رضایت لري. په هر حال د دولت د لاسته راوړنو څخه د رضایت کچه د ۲۰۰۷ څخه را په دې خوا په ټولوسطحو کې مخ په کمېدو ده.

یوه له هغو موضوعاتو څخه چې د دولت سره دځواب ورکوونکو د رضایت په کچه باندې اغېزه لري د اداري فساد څخه عبارت ده چې د یوې لوېې ستونزې په توګه بې په ټولوسطحو کې ادامه پیداکړې ده. د اداري فساد خپرېدل د خلکو د ورځني ژوند او دولت ترمنځ د فاصلې د منځ ته راوړلو لامل ګرځي. ډېرخلک داسې فکر کېږي چې اداري فساد د دولت په لوړوسطحوکې مخ په زیاتېدو دی. د اداري فساد محسوس شوې خپرېدنه باید د یوې مهمې نګرانی منبع وي ځکه هغه ادارات چې په هغوی کې ځواب ورکوونکي کله ناکله د اداري فساد رپوټ ورکوي هغوی هم په خاصه توګه د عامو وګړو د اعتماد د ټیټې کچې یادونه کوي.

یوه بله موضوع چې د دولت څخه دځواب ورکوونکو په رضایت باندې اغېزه لري د خلکو د منتخبو استازو د دندو د نه موثریت موضوع ده. د هېواد د لویو او عمده ستونزو د لرې کولو په برخه کې د پارلمان د لاسته راوړنې مثبتې ارزونې د ۲۰۰۷ کال راهیسې مخ په ټیټېدو دي او همداراز داخبره د پارلمان د غړو په اړه هم صدق کوي ځکه هغوی ونشوکولای چې په خپلو انتخاباتي حوزوکې د خلکو لویو ستونزوته رسیدګي وکړي.
رسمي اوغیررسمي د سیمه ایز استازیتوب اداري لکه ولایتي شوراګانې، د کلیو انکشافي شوراګانې فرهنګي شورای ګانې او جرګې د اکثرو ځواب ورکوونکو د اعتماد څخه برخمنې دي. د کلیوپرمختیایی شوراګانو په اړه پوهاوی مخ په زیاتیدو ده په خاصه توګه هغوکلیوالو سیموکې چې هغوی په اساسي توګه کارکوي. د تېروکلونو په شان داسې ګمان کېږي چې د کلیو پرمختیایی شوراګانو کې دهمغې سیمې محلي با نفوذه مشران شامل دي مګر ځینې داسې نښې هم شته چې د کلیو پرمختیایی شوراګانوکې د ټولنې د لږې قدرتمنې ډلې لکه عادي بزګران، بې ځمکو زراعتي کارګرانو او ښځو، استازېتوب اوګډون څرګند دی. هغه خلک چې د کلیو پرمختیایی شوراګانو په اړه پوهاوی لري د هغوی اکثریت د دې شوراګانو د لاسته راوړنوڅخه خوښ دي.

داسروې د داسې نورو نښو درلودونکې ده چې په تصميم نيولوکې د ټولنيز ګډون پراختيا ښيي. د ځواب ورکوونکو د درې برخوڅخه دوه برخې يې داسې احساس کوي چې هغوی تر ډېره حده پورې د دولت په تصميم نيولو کې نفوذ لري. دا کار د ۲۰۰۶ کال راهيسې په فردي اغېزمنتوب کې د اعتماد د خورا زياتوالي استازيتوب کوي. سربېره پردې د ۲۰۰۶ کال څخه را په دېخوا د هغو ځواب ورکوونکو په تناسب کې زياتوالی منځ ته راغلی کوم چې وايي په عمومي تصميم نيولوکې دې د مذهبي مشرانو سره مشوره وشي.

سروې داسې مومي چې ځواب ورکوونکي د مناقشو د حل دوديز ميکانيزمونه او د دولت نوی قضايي سيستم د لاس رسی، مناسبوالي، اعتماد اوموثريت په لحاظ مثبت ارزوي او ځواب ورکوونکي په دې نظر دي چې د مناقشو د حل دوديز ميکانيزمونو اود نوي قضايي سيستم موثريت د محلي معيارونو او ارزښتونو په پاللو کې نغښتی دی او دا سيستم او ميکانيزمونه په ښه توګه عدالت تامينوي مګر ددې ميکانيزمونو او سيستم د طرزالعملونو مناسب والی د وخت په اړه لږ مثبت ارزول شوی دی. د شوراګانو او جرګو لپاره د رضايت کچې په ټولو برخوکې لوړې دي. په دې اړه چې آيا رسمي قضايي سيستم د دې وړتيا لري چې جرم ته د رسيدګی په منظور مجرم عدالت ته سپاري مختلف نظريات وجود لري. سروې داسې مومي چې دولتي محکموته د ځمکې د قضاياو د حل لپاره او همداراز د طلاق په موضوعاتوکې په خاصه توګه د ښځو په منځ کې لومړيتوب ورکول کيږي.

همدارنګه غيررسمي  قضايي ميکانيزمونه په مکرر ډول د ستونزو په حلولو کې، د جرمونو په رپوټ ورکولو کې او يا د مناقشو په حل او فصل کې په خاصه توګه په کليوالي سيموکې مرسته کوي. په ختيځ او سهيل ختيځ کې غيررسمي عدلي ميکانيزمونو ته مراجعه په لوړه کچه کې دی پداسې حال کې چې په شمال ختيځ او مرکزي (کابل ساحه) کې اوسيدونکي د رسمي جوړښتونو (محکموسيستم) استعمال ته لومړيتوب ورکوي. د رضايت اوخوښۍ کچه په هغو خلکو کې چې خپل قضاياوې يې د محلي شوراګانو يا جرګو له لاري حل کوي نسبت هغو خلکوته چې خپل قضاياوې يې د دولتي محکمو له لاري حل کوي، لوړه ده او دا توپير د ۲۰۰۷ کال راهيسي مخ په زياتيدو ده. سروې ښيي چې رسمي اوغيررسمي عدلي ميکانيزمونه يوبل سره په تضادکې نه دي بلکې دا ميکانيزمونه د يوې سيکې د دو خواوو په توګه ګار کوی ترڅو جرمونو او مناقشو ته د رسيدګی په موخه، يو له بل سره مرسته وکړي.

په ۲۰۰۸ کال کې يوځل بيا د ولسواکی (ديموکراسی) تعريف چې د ځواب ورکوونکو پواسطه ذکرشوی د هغې آزادۍ څخه عبارت ده چې د سولې پوسيله بدرګه ګيږی. او دا هغه شخصي ګټې دي چې د ځواب ورکونکو په نظر د ديموکراسي يې راوستلی شي، او دا مساله ښيي چې د اتباعو آزادي او

امنیت د یو زیات شمیر افغانانو په نظر د اوسني دموکراتیک نظام د کامیابۍ لپاره یو تیزابي آزموینه (دمحک ډبره) ده. هغه ځواب ورکوونکي چې اساسي پرنسپبونه د دیموکراسي د تعریف په چوکاټ کې او د خلکو دحکومت او قانون په توګه بیانوي د هغوی تناسب د ۲۰۰۶ راهیسي په تدریجي توګه مخ په را کمېدو ده. د هغوځواب ورکوونکو تناسب چې وایي ولسواکي (دیموکراسي) د اسلامي ارزښتونو په وړاندې یوه ننګونه ده، د ۲۰۰۶ کال راهیسي مخ په راټیټېدو ده که څه هم دا نظریه لا تراوسه د ځواب ورکوونکو په څلورمه برخه کې ، کلیوالو سیموکې ، لږ عاید لرونکو کورنیو او په بېسواده خلکو کې پاتې ده. په عمومي توګه د ځواب ورکوونکو اکثریت وایي چې هغوی د اوسنۍ ولسواکي (دیموکراسي) سره په افغانستان کي خوښ دي مګر دناخوښۍ لوړه کچه په سهیل لویدیځ، سهیل ختیځ او د هیواد په ختیځ کې ثبت شوې ده.

سروې داسې مومي چې د سیاسي ګوندونو د عمل د آزادیو لپاره یو مخ په زیاتېدو ابهام وجود لري. د ځواب ورکوونکو اکثریت موافقه لري چې دولت دې سوله ایز مخالف ته اجازه ورکړي مګر ګوندونو ته په محلي سیموکې د غونډو د دایرولو د اجازي د حمایت کچه د ۲۰۰۶ څخه را په دې خوا ټیټه شوې ده. همدارنګه دا سروې ښیي چې د مختلفو سیاسي نظرونو منل اوزغمل د ۲۰۰۶ راهیسې مخ په ټیټېدو دي نوځکه یو زیات شمیر ځواب ورکوونکي وایي چې سیاسي ډلو سره په اړیکو درلودلو به خپل ملګرتیا او دوستي یو د بل سره له لاسه ورکړي. په سیاسي ګوندونو باندې د خلکو اعتماد په ټیټه کچه پاتې ده چي دا د دې خبرې وړاندیز کوي چې د سیاسي ګوندونو سیستم تراوسه پوري په افغانستان کې د سیاسي دیموکراتیکې پروسې د یوې مهمې برخې په توګه نه دی تاسیس شوی.

ځواب ورکوونکي د یو بدلون د راوړلو لپاره د رایه ورکولو په موثریت باندي اعتماد لري. مګر زیات شمیر ځواب ورکوونکي په دې بارو دي چې رایه ورکونې دې د ټولنې د لومړیتوبونو په اساس وي نسبت دې ته چې د فردي لومړیتوبونو په اساس وي. د ځواب ورکوونکو د نیمایي څخه زیات شمېر د ۲۰۰۹ کال د ټاکنوڅخه خبر دي او د نیمایي څخه یې لږ کسان په دې پوهېږي چې د ټاکنو لپاره څه ډول خپل نومونه ثبت کړي. د ځواب ورکوونکو درې ربعي وایي چې هغوي رایه ورکوي. مګر ددې موضوعاتو په اړه مثبت غبرګون په سړیوکې نسبت ښځو ته خورا زیات دی چي دا خبره ددې وړاندیزکوي هغه دجنسیت تفاوت چې د ۲۰۰۵ کال په ټاکنوکي لیدل شوی وو د ۲۰۰۹ کال په ټاکنوکې تکرارېږي. د رایي نه ورکولو تر ټولوعمومي لامل د امنیت موضوع ده. د هغوځواب ورکوونکوشمېر چې د رایې ورکولو په اړه علاقه نه لري مخ په زیاتېدو ده. د ټاکنو په اړه خواشیني د هغو ځواب ورکوونکو پواسطه لاهم زیاتیږي کوم چې وایي هغوی ځکه رایه نه ورکوي چې دا کوم بدولون نه را منځ ته کوي. دهغو ښځینه ځواب ورکوونکو څلورمه برخه چې احتمال لري په ټاکنوکې

خپلې راپې ورنه کړي، وايي چې هغوی د دې کار اجازه نه لري. دا ارقام د هغو ښځو د ارقامو دوه برابره ده کوم چې د ۲۰۰۴ او ۲۰۰۵ کلونو په ټاکنوکې د راپې ورکولو اجازه نه درلوده. دا به ډېره د تشويش خبره وي که چېرې په رښتيا هم عملي شي.

د ځواب ورکوونکو ډېره برخه اعتماد لري چې په آينده کې به د افغانستان دولت وشي کولای چې د ټاکنو يوآزاده او عادلانه پروسه سمباله کړي. تر ټولو زياته مهمه ننګونه په دې لارکې د امنيت د نشتوالي موضوع ده چې بې امنيتي د ضعيفه حکومت او اداري فساد په وسيله تعقيبږی.
هغه ځواب ورکوونکي چې وايي په ټولنه کې د بيان آزادي وجود لري دهغوی فيصدي د ۲۰۰۶ راهيسې په تدريج سره مخ په کمېدو ده. د دې لپاره چې د افغانستان اتباع د بيان د آزادۍ څخه برخوردار وي، سروې داسې مومي چې فزيکي (جسمي) امنيت لکه د آزاديو د قانوني تضمين په څېر مهم ګڼل کيږي.
هغه ځواب ورکوونکي چې وايي خراب امنيتي حالات د بيان د آزادۍ په وړاندې ترټولو لوی خنډ دی، د هغوی فيصدي په تېرو دوو کلونو کې مخ په زياتېدو ده.

دځواب ورکوونکو زيات شمېر پرته له دې چې د جنسيت ،قوميت يا مذهب موضوع په پام کې ونيسي خپل ملاتړ د مساوي حقونو د پرنسيپ څخه څرګندوي. په زده کړه او روزنه کې د برخه اخيستنې لپاره د ښځې او نارينه د مساوات په برخه کې د ملاتړ کچه لوړه ده مګر د ښځولپاره چې د کورڅخه باندې کار وکړي، د ملاتړ کچه ډېره ټيټه ده. دځواب ورکوونکو لږ اکثريت (ښځينه او نارينه دواړه) په دې اړه نيوکه نلري چې د يوې ښځې لخوا په يو دولتي اداره کې د هغوی استازيتوب وشي که څه هم ښځې د سياسي مشرۍ په کچه د مساوي استازيتوب په برخه کې نسبت خپلو نارينه سيالانوته ټينګ باورلري. د ښځې او نارينه د حقوقو د مساوات لپاره د ملاتړ کچه په هغو خلکوکې چې عالي زده کړې لري، لوړه ده. د کورڅخه د باندې د ښځو د کارکولو او يا د مساوي زده کړو د فرصتونو د لرلو په برخوکې په غبرګون کې د ۲۰۰۶ کال څخه را په دې خوا کوم اساسي بدلون نه ليدل کيږي. دا ډېره حيرانوونکې خبره نده چې د ښځو او نارينه د حقوقو د مساواتو په برخه کې په ټولنيزو کړو وړوکې يو انقلاب (بدلون) په يوې اوږدې موده کې رامنځ ته شي. خو بياهم په ټاکنو کې د ښځو د ګډون په اړه د ځواب ورکوونکو نظريات په ښکاره توګه د ښځې او نارينه د حقوقو د مساواتو په څېر دي. داکار دا خبره په ګوته کوي چې په سياسي او ټولنيزو موضوعاتوکې د ښځو د زيات ګډون هڅونه د ښځې او نارينه د حقوقو د مساوات په وړاندې د افکارو په پراخ بدلون پورې اړه لري.

په ښاري او کليوالي سيموکې اوس هم راډيو يواځېنی د ارتباط، ملي خبرونو او د معلوماتو منبع ګڼل کيږي چې په زياته پيمانې ورڅخه استفاده کيږي او په افغانستان کې تر ټولو زيات اورېدونکي لري. که

څه هم چې نورو مطبوعاتي منابعوته لاس رسي په ښاري سيموکې نسبت کليوالي سيموته په لوړه کچه کې قرار لري. چاپي مطبوعات لږ معمول دي او په ډيره اندازه هغو کسانو پورې منحصر دي چې لوړې زده کړې لري په خاصه توګه نارينه چې د سواد کچه يې نسبت ښځوته دوه برابره ده او يا هغه خلک چې په ښاري سيموکې ژوند کوي. د ځواب ورکوونکو تقريبا نيمايي برخه په ټولنه کې د غونډو او يا د جوماتونو د خطبوڅخه د جاري پيښو څخه د خبريدنې په موخه استفاده کوي مګر نارينه نسبت ښځوته ډير احتمال لري چې له دې لارې څخه معلومات تر لاسه کړي چې دا په افغانستان کې د رسمي مطبوعاتو يا د ټولنې د غونډو له لارې د ښځوسره د معلوماتو د تبادله کولو په وړاندې دوامداره ننګونې ښيي.